(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استاد فضل الرحمن فاضل سریزه:**

**د لوی خدای په نامه**

# سریزه

**زما گران ورور زاهد جان جلالي د «سید جمال الدین افغاني؛ ستر شخصیت او سپک تورونه» تر عنوان لاندې کتاب له چاپه مخکې را لېږلی تر څو یې مطالعه او سریزه هم ورته ولیکم.**

**زه هم کلونه کېږي چې د گران افغانستان د لوی مجاهد او مبارز سید جمال الدین افغاني افکارو سره بلد او آشنا یم. له مبالغې پرته د علامه سید جمال الدین افغاني په هکله چې هر کتاب په فارسي، پښتو، عربي او اردو ژبه خپور شي، او یا هم وژباړل شي کوشش کوم چې وه یې لولم، له هغه ورځې راهیسې چې زاهد جلالي د جمال الدین افغاني په هکله لیکل شوی کتاب رالېږلی، په هغه لومړۍ ورځ تر هغې چې کتاب مې تر پایه نه و لوستی، ویده نه شوم، او په سبا ورځ مې ورته یو څه ملاحظات هم ولیکل، او وعده مې ورسره وکړه چې سریزه هم ورته ولیکم.**

**په خاصه توگه وروسته له دې چې پوه شوم زاهد جان زما د گران دوست خدای بښلي مولانا دکتور محمد جلال زوی، او د خدای بښلي مولانا میر حمزه، چې د افغانستان د اسلامي نهضت له وتلو کسانو څخه و، ورارہ دی، دا مې لازمه وبلله چې د گران زاهد جان پر کتاب سریزه ولیکم.**

**کله چې رایاده شي، زاهد جان خپل پلار او تره یو په بل پسې، په ډېره لږه موده کې له لاسه ورکړي او په هغه وخت کې د څلورو او پنځو کالونو عمر در لود چې د زوکړې ځای، مکې مکرمې څخه له خپلې کورنۍ سره پلرني ټاټوبي ته ستنېږي، په کابل کې د افغانستان د نوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځوان دولت پر ضد، د تحمیلي جنګونو له امله په پېښور کې د مهاجرو په کمپ کې مېشت کېږي چې پخوا یې هم کورنۍ هلته اوسېده، ولې د یتیمۍ درد د دې لا مل نه شو چې ماشوم او یتیم زاهد له زده کړو محروم شي، په جدي توګه مکتب کې شامل او دې مرحلې ته ورسېدو چې څو کتابونه یې چاپ شوي او د سید جمال الدین افغاني په هکله د ده ژوره لیکنه یې د ژورې مطالعې او وطن دوستۍ څرګندونه کوي.

زاهد جلالې په خپل کتاب کې د ستر شخصیت، سید جمال الدین افغاني پېژندنه کړې او د بې ځایه او ناروا تورونو څخه یې د سید جمال الدین افغاني لمن پاکه کړې، زاهد جلالي پدې لیکنه کې د حقیقتونو څرګندولو په خاطر د سید جمال الدین او د ده نږدې شاګردانو خبرې را اخلي او زمونږ د لویدیځې غاړې ګاونډي په رد کې چې جمال الدین افغاني شیعه مذهبه او ایراني الاصل بولي، قانع کوونکي د لائل وړاندې کوي، همدارنګه د سید جمال الدین افغاني په هکله د «الحاد» بې بنسټه تور هم په ډېر خاص استدلال سره ردوي.

زه هم په خپل وار سره ګران لیکوال زاهد جان ته د دې کتاب «سید جمال الدین افغاني؛ ستر شخصیت او سپک تورونه» د خپرېدو مبارکي وایم، د خپلو وطنوالو او په خاصه توګه له ځوان نسل څخه غوښتنه کوم چې دغه کتاب ولولي، او له زاهد جان څخه هیله لرم چې زیاته مطالعه او لیکنې وکړي ترڅو د نامدار پلار او مرحوم کاکا هیلې او د دغه دواړو هستیو د دوستانو هیلې هم پوره کړي.

ګران زاهد جان ته له لوی خدای څخه د سلامتیا، سرلوړۍ او د لا پرمختګ دعا کوم. بمنه وکرمه

فضل الرحمن فاضل

قاهره. ۲۸ اسد ۱۳۹۳ هجری لمریز کال، ۱۹ اګست ۲۰۱۴ م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال خبرې

د شخصیتونو په اړه مې ډېر څه لیکلي، "د اسلامي فکر اتلان" کتاب مې په دوو ټوکونو کې خپور شوی، خو د سید جمال الدین افغاني په اړه څه په کې نه شته، چې د ځینو لوستونکو یوه نیوکه همدا وه، خو ما نه غوښتل چې اوس د علامه سید جمال الدین افغاني پر ژوند او په ځانګړي توګه پر اند څه ولیکم.

ما چې به کله هم د علامه سید په اړه څه لیکلو ته زړه ښه کړ، د شیخ غزالي مشهوره وینا به رایاده شوه، غزالي ویلي، د سترو شخصیتونو په اړه باید ستر خلک لیکل وکړي، یعنې ستر شخصیت هر څوک نه شي درک کولای! ما ځکه د لیکلو جرئت نه کاوه.

خو د دغه ستر شخصیت په اړه به مې کتابونه په مینه لوستل. دوکتور محمد عماره هغه څوک و چې علامه یې ښه سم راوپېژانده او د محمد جلال کشک په یوه مقاله یې بیخي شوقي شوم. په دغه وخت کې مې یوازې په لوستلو اکتفا کوله، خو څه موده مخکې فرهنګي یار، محمد حسین میاخېل راباندې غږ وکړ چې د علامه په اړه ورته یوه علمي مقاله ولیکم. ما له زړه نا زړه کېدو وروسته ځان سره وویل، چې زه به خپلو لوستونکو ته د سترو مفکرینو په هنداره کې دغه ستر شخصیت ورپېژنم، نو د دې مقالې لیکلو ته مې متې رابډ وهلې او همداسې مې وکړل.

که څه هم کابل کې د مصادرو ستونزه وه، خو د انټرنټ له لارې مې د دوکتور عماره او نورو مصري مفکرینو کتابونه ډانلوډ کړل او د افغاني شخصیتونو کتابونه مې په عامه کتابتون کې وموندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۳۵۵شمسي کال کې مرحوم محمد داوود خان په کابل کې د علامه په وياړ يو کنفرانس رابللی و او مصري مفکرينو ته يې هم د ګډون بلنه ورکړې وه. په همدغه وخت کې د افغان څېړونکو او ليکوالانو کتابونه هم چاپ شوي وو. دغه وخت کې د علامه حبيبي، رشتيا، سعيد افغاني، رهين او نورو ليکوالو کتابونه هم چاپ شوي وو چې له ما سره يې ډېره مرسته وکړه.

وروسته له دې چې مقاله بشپړه شوه، په سر کې مياخېل او وروسته نورو ملګرو راته وويل چې مقاله پراخه ده، بايد د کتاب په شکل چاپ شي، ما هم د دوی نظر ومانه او چاپ ته مې تيار کړ.

په قاهره کې د افغانستان سفير او علامه پېژندونکي ليکوال، فضل الرحمن فاضل صاحب نه زښته ډېره مننه چې له بوختياوو سره يې کتاب ولوست، ډېرې ښې لارښوونې و مشورې يې راولېږلې او بيا يې خپله مقدمه يې راولېږله.

فرهنګپال ژورنالېست، مشر ورور محمد طارق بزګر د کتاب د چاپ او خپرولو لګښت پر غاړه واخيست. د دغه فرهنګپالې قربانۍ منندوی يې يم او په ملي خدماتو کې يې لا تاند غواړم.

زاهد جلالي
۲۴/ سرطان/ ۱۳۹۳
کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال لنډه پېژندنه

زاهد جلالي د ۱۹۸۹م کال د دولسمې میاشتې په دوه ویشتمه نېټه په مکه مکرمه کې زیږیدلی دی. پلار یې دکتور محمد جلال د مکې د ام القری له پوهنتون څخه په اصول الفقه کې دکتورا کړې. په کال ۱۹۹۳م کې د پلار له مړینې وروسته له خپلې کورنۍ سره یوځای پاکستان ته را ستون شوی او د جلوزو په کیمپ کې میشت شوی دی، چې تر دې مهاله یې کورنۍ په پېښور کې اوسي.

پلرنی استوګنځی یې د افغانستان د پروان ولایت، د غوربند د شینوارو ولسوالۍ، د کفشان کلی دی.

جلالي ۱۹۹۴م کې په لومړي ځل په یوه وړکتون کې شامل شو او وروسته بیا دالنور په عالي لېسه کې له لومړي ټولګي څخه تر یوولسم پورې زده کړې وکړې، چې په ۲۰۰۸م کې د جلوزو کیمپ د ورا نېدو له کبله یې دولسم ټولګی د پېښور په ایمل خان بابا لېسه کې پای ته ورساوه.

د رسمي زده کړو ترڅنګ یې عربي او انګلیسي ژبې کورسونه هم ویلي دي اوځینې دیني زده کړې یې هم له کلیوالو علماو څخه ترلاسه کړې دي.

د دولسم ټولګي له فراغت څخه وروسته په کال ۲۰۰۹م کې د اسلام آباد نړیوال اسلامي پوهنتون، د شرعیاتو او قانون پوهنځي ته بریالي شو او د ۲۰۱۴ په لومړیو کې یې پنځه کلنه ډګري پای ته ورسوله.


(c) ketabton.com: The Digital Library



دپوهنتون له شامليدو مخکې جلالي دمکتب جريده په مخ بېوله او په کال ۲۰۰۷م او ۲۰۰۸م کې د النور دعالي ليسې د فرهنګي کميټې مسوليت ور په غاړه و. د پوهنتون په دوره کې يې له مختلفو ورځپاڼو، جورنالونو، مجلو او وېب پاڼو سره همکاري کړې. په ۲۰۱۱م کال کې يې په ټول افغان انټرنټي پاڼه کې د «ويښتابه» په نامه بلاګ جوړ کړ او په ۲۰۱۲م کال کې په نړيوال اسلامي پوهنتون اسلام آباد کې د افغان محصلينو اتحاديې له خوا د «ويښتابه» مجلې مسؤول مدير وټاکل شو.

دغه کتابونه يې چاپ شوي: «د اسلامي فکر اتلان» (دوه ټوکه)، «حسن البنا او سيد قطب، د معاصرې اسلامي ويښتابه سر لاري»، «دلته ژړا هم جرم دی»، «ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته فکري کيسې». د اسلامي نړۍ ستر ليکوال او مفکر دکتور عبد الحليم عويس د سيرت کتاب چې ماشومانو ته يې ليکلی، ژباړلی او ميوند خپرندوی چاپ کړی. ماشومانو ته د مصري ليکوال استاد احمد نجيب نړيوالې کيسې يې هم پښتو ته ژباړلي، خو لا چاپ شوي نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهد جلالي په خپل کتاب کې د ستر شخصيت، سيد جمال الدين افغاني پېژندنه کړې او د بې ځايه او ناروا تورونو څخه يې د سيد جمال الدين افغاني لمن پاکه کړې، زاهد جلالي يدې ليکنه کې د حقيقتونو څرګندولو په خاطر د سيد جمال الدين او د ده نږدې شاګردانو خبرې را اخلي او زمونږ د لويديځې غاړې ګاونډي په رد کې چې جمال الدين افغاني شيعه مذهبه او ايراني الاصل بولي، قانع کوونکي د لائل وړاندې کوي، همدارنګه د سيد جمال الدين افغاني په هکله د «الحاد» بې بنسټه تور هم په ډېر خاص استدلال سره ردوي.

استاد فضل الرحمن فاضل

په قاهره کې د افغانستان سفير او وتلی سيد پېژندونکی

له فرهنګپال ژورناليست ښاغلي محمد طارق بزګر نه ډېره مننه چې د دې کتاب د چاپ لګښت يې ومانه، په دغسې فرهنګي خدمتونو کې دې تاند اوسي.

Designed by: Rahmanullah Baheer

